(Hand it over to ~~teacher~~ teacher Muallim Afzal.)

Name : Nida Hidayat
Batch : 40

## اولسي آدب څه ته وائي؟

**تعارف :-**

اولسي آدب ته دوه نومونه نور هم ویلی شي.

اولسي آدب د پښتو شاعرۍ هغه صنف دے د کوم چې شاعر معلوم نه وي، کوم چې سینه په سینه یا د یو نسل نه بل نسل ته منتقل کیږي او د کوم ژبان چې انتهائي / ډیر ساده او آسان وي، دې ته اولسي آدب ویلې شي.

اولسي آدب نه صرف په شاعرۍ کښې دے بلکه په نثر کښې هم شته. یعنې اولسي آدب په شاعرۍ او په نثر دواړو کښې وي او کوم چې په مېکلې پېړکلي حالات کښې نه وي.

پښتو کښې اولسي آدب مندرجه ذیل دي:

1- ټپه / لنډۍ
2- لوبه
3- سندره
4- نکلۍ
5- بدله
6- چاربیته

## 1- ټپه / لنډۍ :-

د ټپې دویم نوم "لنډۍ" دے یا
ټپه / لنډۍ د یو صنف دوه ټوټونه لري. د پښتو د عوامي
شاعرۍ دا د ټولو نه زوړ صنف دے. محققین په اتفاق سره
وائي چې د پښتو شعر ابتداء د ټپې نه شوې ده. د دې
دویمه مصرعه لنډه وي له دې وجې / وجې نه
ورته لنډۍ وائي.

## مثال :-

په لوړ لوړ کښې نارے کوم
ته د دنیا نه آروانی راځې مه

مصرعه :-

قاضي عبدالحلیم ~~[illegible]~~ صاحب لیکي چې دې ته مصرعه هم وائي ځکه چې د دې اولنی جز لنډ او دویم جز اوږد دے او ټوله مصرعه / لنډۍ د سر نه تر آخره پورې زړه د یوې مصرعې مثال دے نو په دې ~~[illegible]~~ لحاظ ورته مصرعه ویلې شي.

عام پښتانه ~~[illegible]~~ ټپې ته د مصرعې توری استعمالوي. خو کله د مصرعې یعنی چینو په شان د څوو والي په وجه مصرعه کښې ځکه چې د جوړښت اوږد دې ، وي ، د دې وجې نه مصرعه کښې هم څوو والي وي او دې وجې نه مصرعې ته مصرعه ویلې شي.

## • ټپې ته ټپه ولې وائي :-

ټپې ته ټپه ویلو

دریې وجې / وجوه دي:

1- قاضي عبدالحلیم اثر وائي چې ټپې ته ټپه ځکه وائي چې دې سره آواز ټپ شي. دا اشر په اوچت آواز ویلے شي نو ~~[illegible]~~ دغه قریبي سره یو څو لنډۍ ویلو نه پس د وچوکي آواز ټپ شي او بیا نو نه پورته کیږي ځکه ورته ټپه وائي.

2- پښتو کښې ټپې ته ټاپ یا ټپېزه هم ویلې شي. منا غلې ... په خپل اردو مضمون " پښتو لوک ګیت " کښې لیکي چې ټپه پښتو ژبه کښې "جعفر" ته وائي او چونکه پښتانه په ځیرو ځیرو کښې دا د ضرب المثل په توګه استعمالولو ځکه دې ته ټپه وائي.

3- دریمه وجه دا ده چې ټپه ټپولو ته هم وائي چونکه ټکه یو مصرعې ځکه وي نو مطلب دا داسې ورکولو دپاره یا داچې دا د ټکه ژوندي دپاره د ټپولو او ټلاروګو په حیث وي ، ځکه ورته ټپه وائي.

ټپه په اولسي ادب کښې د ټولو نه زوړ صنف دے ، ویلے شي چې دا دومره زړه ځکه زوړ صنف دے. ټپه کښې هر رنګه مضمون بیان کیدے شي . د هر رنګه مضمون بیان او نه مطلب دا دے چې په دې کښې د الله تعالی صفت بیان کیدے شي . محمد ذکر یا تعارف ، لیکلې کیدے شي ، معجزه په حواله ټپه وي . په دې کښې د محبوب ذکر کیدے شي ، د محبوبې ، د ځیرکښې ، جماعت ، ننګې ، ګلو در ذکر لیکلې کیدے شي.

## مثالونه :-

جلوه جانان د هور او باره خوږ دے
محله مي اونيکې د نیاز پېڅو سترګو څي نه

زما بانړا ورته لوګي کړه
زما کتنځ په جانان بد راغلي دې نه

خدائي مې په دواړو سترګو ړوند کړه لکه
چې ستا د مخه پېرے بل مخ نه نه ګورمه

د آسرې ځائې مې پاتې نه شو
د داسې خلق سره مې تورې خودې نشو نه

ارمان ځوانۍ پیسې بکار دے
کم عقل خلق د دولت ارمان کوې نه

سرې په لوم نه سرې مېږي
سرې هغه دي چې ئې کار د سرو وينه

بېلتون بوانړے په ما نړې
بېلتون مشعال دے وره پاتېره دجوي نه

ليونې سپينې ما نه چاپېر دي
جانان په ښتو ګوري ما پېرې خورېږه

ستا د یوې ورځې خندا وه
زه به ژړا درپسې ټول عمر کومه

که په شپېو باران وریږي
زما په خپل جانان باور دے را به شي نه

زما او ستا چې پېرې وعده وه
بېګا په دوخه ځائې ځای کښې اور اولګېدو نه
{ ټلمیسي ټپه }

## ۵- لوبه :-

لوبه د اولسي آدب دوېیم صنف دے. لوبه ډېر عوامي صنف دے. لوبه د ټینګ تکرار سره د ونګلو په وجه ډېر خوږ او زړه راښکونکي. د لوبې مزاج یا ژبه یا ژبان ډېر نازک دے که دې کښې د ساده ژبې نه یو څوه هم څوک وکړے شي نو بیا یکښې دوخه خوږ او مزه پاتې نه شي- دا اکثر د خوشحالۍ په موقعه وئیلې کیږي. عام طور لوبې د ښځو په آوازونو وئیلے شي، چې لوبې د پاره زیات مناسب دي. دا اکثر په عزیرګو آوازونو ~~زیات~~ هم وئیلې شي، کوم چې زیات خوند کوي.

د لوبې شروع اکثر د دوؤ مصرعو نه کیږي:
اولنۍ مصرعه یعنې د شروع دوؤ مصرعو ته "مسر" وئیلې شي او دویمه مصرعه لنډه وي. وربسې درې مصرعې لوړې وي چې دوخه "ہم قافیه" وي او وله جدا

جدا قافیې لري. څلورمه مصرعه بېشپړه د اولنۍ مصرعې
یعنې د سر په وزن وي او د دې درې واړو وزن برابر وي
ستانزې د دوو، درېو، څلورو مصرعو لرونکې وي چې
بعضې بندونه د لوبې د "سر" په وزن مصرعه ورپسې
شي.

مثال:

ستا د خانګې په ګلو راغلے خم سیلاب ملکه
شې به خراب ملکه
ستا د خانګې ګلې بربادې وینمه
د غریبانو کور آباد وینمه
بت خیښتې واړه په فریاد وینمه
ستا کله خیال وه چې به راشي انقلاب ملکه
شې به خراب ملکه

## ۳- سندره:

لوبه او په سندره کښې ډېر باریک فرق
دے. سندره د لوبې نوے شکل دے یا دا چې سندره
د لوبې خور ده. وخت تېرېدو سره سره ئې د سندرې
شکل غوره کړو. نن سبا چې مونږ په رېډیو، ټي-وي او
فلمونو کښې څه اورو دا د لوبې جدید او نوے شکل دے.

په لوبه کښې اولنۍ مصرعه غټه وي او دویمه
لنډه وي او په سندره کښې اولنۍ مصرعه لنډه وي
او دویمه مصرعه اوږده وي.

په لوبه کښې درې "هم قافیې" مصرعې وي

او په سندره کښې درې نه واخله تر ښه پورې هم
"هم قافیه" مصرعې کېدے شي. دا انحصار کوي د شاعر
په ټکب پابندۍ. لو چې یو شاعر درې هم قافیه مصرعې
په سندره کښې اولیکي نو څلورمه مصرعه به د اولنۍ
مصرعې یعنې د سر په وزن وي او پنځمه مصرعه به
تکرار وي.

مثال:

زما صنم د ښایست پېرو کمے ستګار دے
زړه مې بے قرار دے اوس غوارم دیدن ته
زما صنم کمے ستګار د ښایست پېرو دے
د حسن نښږ په ټول جهان مینې د خاورو دے
سوړکي پښتون ئې اوبزران څه په تخرو دے
بل ئې په غاړه کښې د سرو یعقوتو هار دے
زړه مې بے قرار دے اوس غوارم دیدن ته

## ۶- بدله:

بدله هم کله د ټپې په شان کښې ډېر مقبول صنف
دے چې د پښتو ژبې توله سرمایه پکښې محفوظ پرته ده.
دا د مثنوي په ډول وي. بدله ورته په دې وجه وائي
چې د هر شعر قافیه ئې بدله وي. ولې بیا هم داسې بدلې
هم شته چې په یو قافیه ردیف ولیکلې شوې دي.

په بدله کښې رومانی، تاریخي، انقلابي، قومي
او واقعات په تفصیل سره بیانولی شي. رزمیه او بزمیه
ټول واقعات پکښې څیړلے شي. قصص الانبیاء، لیلی مجنون

او فرهاد شیرینه د فارسۍ ژبې نه په بدله کښې پښتو ته ژباړلې شوې دي. د پښتو هغه اولسي رومانونه لکه آدم خان درخانۍ، فتح خان رابیا، یوسف خان شیر بانو او مومن خان شیرینه وغیره په بدله کښې بیان شوي دي.

د دغه شان مختلفې جګړنامې او نورې شعري مقامي جګړونه تاریخي داستانونه په بدلو کښې محفوظ دي. بدلې اکثر زباني خلقو ته یادې وي او په مجلسونو کښې په خوږ او مزه ویلې شي. کو رومانونو کښې هم ویلې شي.

**مثال :-**

یو تورسره درته کوم د ګل په رنګ
چې دې لرې شي د خوږ زړګي نه زنګ
د اکبر په زمانه کښې زما لاله
~~یو عاشق وه د تورالندۍ کلي نه بره~~
~~چې اوس ښکاري دغه ځوان د غره له سره~~
یو عاشق وه خبر وګم دې له احواله
کور ئې وه د تورالندۍ کلي نه بره
چې اوس ښکاري دغه ځوان د غره له سره
ده یو دوه ښېږې وو ساتلې ورېدار
محبت ئې ورسره کوه بسیار
سپو مرزه چې اوږې وي د تورګرو
شرنګار به ئې کوه په لارې دو
شرنګار د شیر بانو چې لیا تر غوږو شو
د آوازه سره ئې زړه رنګ ترنګ شو

## 5- نیمکۍ :-

نیمکۍ د پښتو د اولسي ادب د یوه ډېر زړه پورې صنف دی. د نیمکۍ وړومبۍ مصرعه پوره وي او دویمه مصرعه نیمګړې وي. هم د دغه وجه ده چې د دې صنف نوم نیمکۍ ایښودل شوی دی.

په نیمکۍ کښې اکثر د عشق او محبت موضوع څېړل شوې او کله کله د دوه ستړو غاړو ترمنځه د سوال و جواب کار هم ورکوي. لږ د غنيمې پیا د نیمکۍ سر پو ټن وائي او تپه ورپسې بل کس وائي او د غنیمې د دې خوند او رنګ نور هم زیات شي. نیمکۍ د الزي سندرې سره نږدې والے لري.

## مثال :-

زه چې په چغو ژارم
ولې خاندې ولې؟
زما د مینې په کور اور ولګېدنه
ولې خاندې ولې؟
زه چې پیدا شوم په ژړا شوم
ولې خاندې ولې؟
په دنیا خور نصیب به کوم ځاۍ لټوه
ولې خاندې ولې؟
په غټو سترګو مېړنۍ واخله
ولې خاندې ولې؟

په غټو غټو رانه کوږې ماښام نه
ولې خانه ولېږې

## 6- چاربیته :-

د پښتو په ادبي شاعرۍ کښې
چاربیته ډېر مقبول او زړه راښکونکی صنف دے. دا هم یو
ډېر زوړ صنف دے او د ډېرو خانانو وزن او آهنګ
دے. اکثر چاربیتې د خلقو یادې وې هم د دغه وجه ده
چې ډېرې چاربیتې چې څه موده مخکښې په ولس کښې مشهورې،
صرف په دې وجه نن نشته چې څوک لیکلې ذخیره نه
موجوده نه ده. بیا هم ډېرې چاربیتې په کتابونو یا
ناچاپه شکل کښې موجوده دي. چاربیتې په جدا بحر او بېل
وزن کښې لیکل شوي دي او په قلمي نسخو کښې نې
لیکلې دي لکه "کبره پېزو" او "زنځیرئ" وغیره.

د چاربیتې څه مخصوص موضوع نه دی. په دې
صنف کښې تاریخي واقعات، داستانونه، قیصې، مذهبي
واقعات، جنګونو ذکر او د عشق او محبت سوز ګداز
اظهار کولی شي. احمد جان طالب، محمد دین، صالح محمد،
محمد ایوب خان توکل او مېراد چاربیتې په زړه راښکونکو
کښې مشهور دي.

چاربیته کښې څلور بیتونه وي چې څلورم ئې
ظاهره ده. د "سر" د شعر نه پس راځي
مصرعې وي او څلورمه مصرعه ئې د سر په وزن وي.
عمومي چاربیتې د څلور (مسدسو نه) په ګاڼه او ورد وي

او ستاینه کښې ئې د دریو مصرعو په څېر راځي شعرونه
وي او څلورم شعر ئې د سر سره هم وزن وي.

## مثال :-

ربانه راته وایه مینې چېرته دے
زما د سترګو تور د زړه مرهم چېرته دے
ولاړ د شوه چې نه د ښکلي یار نه غم
د خپل زخم زخمي زړګي قرار نه وینم
ګل رنګه ګل و ښکلي او ګل رخساره وینم
خو هغه دلبر نشته زما د غم چېرته دے
زما د سترګو تور د زړه مرهم چېرته دے